داکتر ص سعیدی
۲۰۲۴/۱۰/۱۳

# په زور کلي نه کېږي!

پاکستاني پوځ په زور نه وړې او نه به یوسي!
پاکستاني پوځ او استابلشمنت په مکارۍ، دوکي او نامردۍ وړې، خو دا ځل ورته ناوخته دی !
دقومي عدالت او جناب منظور سره پرونۍ ناسته او د په شا تګ توافق به د دوی مکاريو سره جوګه هم وي !
هو خو دا وار ورته ناوخته دی !
د سیمو په طبعی شتمنیو تسلط، د اوس لپاره د داخلي خود ارادیت او د افغنستان سره په تذکرو تګ او راتګ او آزاد اقتصادي زون اعلان او فیصلي ته د جرګي غړو ته سپارښت کوم .
د عدالت خبر خو د جرګي بنیادي اومرکزي خبر ده !
ددې جرګې د فیصلو او پرېکړو په آخر کې داپرېکړه وراضافه شي :
د پښتنو د روایاتو او اصولو پر بنسټ، د جرګې پرېکړې واجب الاجراء او د بلي کومي مرجع او ارګان هوکړې ته اړتیا نه لري !
ددې جرګې تولې، هو تولې پرېکړې د پرېکړې سره سم په کل او جمله کې واجب الاجرا دي، چې د اجرا لپاره یې سم د لاسه
عملي کولو ته تول اقدام او اجراات وشي.
ددې پرېکړو اوفیصلو له یوې مادې او پرېکړې سره مخالفت د تولو سره د مخالفت په مانا او د جرګي د ګډون والو سره د مخالفت او دوی ته د جګړې اعلان، بلل کېږي .
دمخالف دغه د مخالفت انتخاب په صورت کې د جرګې تولو ګډونوالو ته د نوې فیصلي له کولو پرته ددې جرګې د تولو فیصلو د عملي لپاره له تولو ممکنو وسایلو نه د استفادې حق خوندي او مجاز دی.
د تخلف په صورت کې د خود ارادیت مسأله به پراخه کچه مطرح ده او ورته تدابیر وجیبه ګرځي !

داکتر ص سعیدی
۲۰۲۴/۱۰/۱۱
۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ